مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شاه ولی ارین
۲۰۲۰/۰۹/۱۳

# په دوحه کې د افغانانو د خپلمنځي خبرو پیل

د دوه زره شلم کال د سپتمبر د میاشتي دولسمه د قطر هیواد پلازمینه دوحه کې د افغانانو د خپلمنځي خبرو پیل پرانست غونډه د امریکا د بهرنیو چارو د وزیر او د شلو په شاو خوا کې هېوادونو د دیپلوماتیکو استازو په شتون کې جوړه شوه. دغه راز په غونډې پورې اړوند نظریات له بېلابېلو مراجعو څخه وړاندې شوي دي، چې لنډيز یې په دې ډول دی:

د غونډې په پیل کې د امریکا د بهرنیو چارو وزیر داسي وویل:

«د انساني حقونو د خوندیتوب تر ټولو غوره لار جمهوریت دي. زموږ مرستي به دوام ولري او د دغو مرستو څرنګوالی د بین الافغاني مذاکراتو د پروسې د پرمختګ او لاسته راوړنو پورې تړلي دي.»

عبدالله عبد الله په خپلو خبرو کې هیله مند ي و ښوده، چې اوربند به رامنځته شي، له امنیتي ځواکونو، اساسي قانون او جمهوریت نه دفاع کوو، هغه زیاته کړه چې روان جنګ ګټونکی نه لري او د سولې په شتون کې د بهرنیو ځواکونو شتون ته اړتیا نشته، موږ نړیوال ملاتړ لرو، چې پر اساس یې هر ډول ګواښ ځوابولي شو.

ملا برادر په خپلو خبرو کې وویل: د سولې په خبرو کې د ځو تنو د ګټو د خوندیتوب پر ځای باید پر ملي ګټو تمرکز وشي. هغه زیاته کړه، چې له ستونزو سره ـ سره باید خبرو ته ادامه ورکړل شي، ملا برادر وویل، موږ د دوحې تړون ته ژمن یو، باید مقابل لوری هم ورته ژمن پاتي شي.

د اسلامی همکاریو د نړیوال سازمان استازي په خپلو خبرو کي وویل: موږ د سولي له پروسي ملاتړ کوو، او له نړیوالي ټولني هیله کوو چي په دې مهمو شیبو کي له افغانانو او افغان حکومت سره مل و اوسي.

ملګری ملتونه: افغانانو ته باید سوله ایز چاپیریال را منځته شي. اوربند باید له شرطه پرته ومنل شي. ډاډه و اوسئ چې د سولي له دي پروسي ملاتړ کوو. پخوانی اوربند د ستایلو دی. افغانان باید د سولي له خبرو خبر و اوسئ.

د ناټو سرمنشی په خپلو خبرو کي داسي وویل: موږ د تاوتریخوالی موخه پای ته رسولی ده. افغانستان باید نور د ترهګرئ او تروریستانو خاله نه وي. نولس کاله وړاندې هم له افغانانو سره وو او اوس هم یو. افغانان سوله غواړي، نړیواله ټولنه د دوي د غوښتنو ملاتړ کوي او قرباني یې ستایي. افغان امنیتي ځواکونه د تیرو لسو کلونو په پرتله اوس ډیر ځواکمن شوي دي.

د جاپان استازی په خپلو خبرو کي داسي وویل: موږ د سولي له پروسي ملاتړ کوو. هیله مند یو چي اوربند تر سره شي، او هم هیله لرو چي خبرې افغانانو ته له بحران نه د وتلو زمینه برابره کړي. هغه زیاته کړه موږ د بیا رغاونې په برخه کې ژمن یو او له سولي وروسته به هم خپلو مرستو ته دوام ورکړو.

انګلستان: دا یو پیل دی، موږ په دي هیله یو چي افغانان یوه د حل لار و مومي او له بحرانه ووزي. هیله لرو چي لاسته راوړنو ته ورسیږو.
فنلند: د افغانستان ملګري و او یو به، ګڼ افغان کډوال مو منلي دي. اوس د دې وخت رارسیدلی دي چې د خبرو له لارې ستونزه حل شي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

هسپانیا: موږ د هغوي قرباني نه شو هیرولی چي ترهګری ځپلي دي، د دي پروسي درناوی کوو او ورته هیله مند یو.

د هندوستان استازي په خپلو خبرو کي وویل: زموږ هیله ده چي افغان خاوره هیڅکله د هند پر ضد ونه کارول شي. هغه تاکید وکړ چي د افغانستان ګاونډ کي د ترهګرۍ په زیاتیدو هم باید خبري وشي. هره پروسه باید د افغانانو په مشرئ وي. هغه زیاته کړه، چي په افغانستان کي داسي سیمه نشته چي هلته د دوي پروژه نه وي پلی شوی. هندوستان د افغانستان په بیا رغاونه کي د دی هیواد لوی ملګری پاتي شوي دي.

پاکستان: افغان شخړې یوازې د سیاسي لارې حل کیدای شي. د سولي په سفر کي له افغانستان سره ملګری یو. له افغان شخړې نه یي زیانونه لیدلي دي. افغان ولس باید خانته پرینښول شي، لکه څنګه چي پخوا پرینښوول شول. ورانونکي به په راتلونکي کي هم د سولي د خبرو د ګډوډیدو هڅه وکړي.

د جرمنی استازی وویل: یوازې افغانان خپل راتلونکی ټاکلي شي. هغه زیاته کړه پلاوي باید داسي بنسټ کیږدی چي د ټولو حقوق پکی خوندي شي.

ترکیه: اوربند ته باید لومړیتوب ورکړ شي. جګړې او خبرې په یوه وخت مخته نه شي تللي اوس چي سولي ته فرصت رامنځته شوی دی هیله ده چي له لاسه ونه وزی.

ازبکستان: تیار دی چي د افغانانو د خپلمنځي ناستي کوربتوب وکړي.

ناروی: د ناروی استازي په خپلو خبرو کي داسي وویل: پیاوړې ارادې ستونزې هوارولای شي. (افغان سوله.)

اندونیزیا: سوله په زور نه کیږی، بلکه د یو بل په منلو کیدای شي.

له بله پلوه ځلمی خلیل زاد هم افغانانو سره د مرستو خبره د مذاکراتو له وضعیت سره غوټه کړه او زیاته یي کړه سره له دی چي د مذاکراتو په پروسه کي ستر خنډونه او د غوښتنو تر منځ واټن موجود دی، خو ده هیله څرګنده کړه چي هلي ځلي به وکړی، چي د حل لارو ته نږدی شي.

تر هغه ځایه چي د بهرنیو هیوادو د استازو له خبرو څرګندیږی، اوس هم د نړیوالو په ذهن کي د ترهګرۍ بیم شته او د دوي څرګندونی د جمهوریت او د نظام د لاسته راوړنو نه د حمایت ښکاره بیلګي دي.

زما په اند تر اوسه هم معلومه نه ده چي امریکا د پردې تر شاه له طالبانو سره په کومو مسایلو توافق ته رسیدلی او کنه، خو امریکا شاید په یو ډول نه یو ډول وغواړي چي د ګاونډیو او په سیمه کي د افغانستان د جګړی د خیلو اړخونو ته د ګټو او امتیازاتو ارزښت په نظر کي ونیسي که چیری په رښتیا هم په افغانستان کي د سولي د راتلو نیت ولري. مګر په هیڅ ډول ممکن دا نیت ونه لری چي له افغانستان نه په دایمي توګه ووځی.
تر هغه ځایه چي لیدل کیږي دا د سولي د پروسي خورا حساس او پیچلی پړاو دی. افغانان د سولي تږي دي، هیله ده چي دغي سترې او پیچلی هیلي ته ورسیږي.

سره له دې چي ماته د سولي روانه پروسه یوه پروژه ښکاری، چي امریکا او ترامپ ممکن د جمهوری ریاست د ټاکنو د مؤثر کمپاین په توګه تري استفاده وکړي، خو د افغانانو، ملاتړ او د خوشالی احساسات څومره امیدونه را ژوندی کوي، هیله مند یو چي د افغانانو دغه خپلمنځی خبرې اترې برعکس له پروژې نه په پروسې بدل شي او دغه خبری د سراسری سولي پیغام زموږ هیواد او غم ځپلی ولس ته دارامی یوه ښه زیری شي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ